# او زه ضمام بن ثعلبه د بنو سعد بن بکر له قبیلې څخه یم

له أنس بن مالك رضي الله عنه څخه روایت دی چې فرمایلي یې دي: بينما نحن جلوس مع النبي صلى الله عليه وسلم في المسجد دخل رجل على جمل، فأناخه في المسجد ثم عقله، ثم قال لهم: أيكم محمد؟ والنبي صلى الله عليه وسلم متكئ بين ظهرانيهم، فقلنا: هذا الرجل الأبيض المتكئ. فقال له الرجل: يا ابن عبد المطلب فقال له النبي صلى الله عليه وسلم: «قد أجبتك». فقال الرجل للنبي صلى الله عليه وسلم: إني سائلك فمشدد عليك في المسألة، فلا تجد علي في نفسك؟ فقال: «سل عما بدا لك» فقال: أسألك بربك ورب من قبلك، آلله أرسلك إلى الناس كلهم؟ فقال: «اللهم نعم». قال: أنشدك بالله، آلله أمرك أن نصلي الصلوات الخمس في اليوم والليلة؟ قال: «اللهم نعم». قال: أنشدك بالله، آلله أمرك أن نصوم هذا الشهر من السنة؟ قال: «اللهم نعم». قال: أنشدك بالله، آلله أمرك أن تأخذ هذه الصدقة من أغنيائنا فتقسمها على فقرائنا؟ فقال النبي صلى الله عليه وسلم: «اللهم نعم». فقال الرجل: آمنت بما جئت به، وأنا رسول من ورائي من قومي، وأنا ضمام بن ثعلبة أخو بني سعد بن بكر. په داسې حال کې چې مونږ په مسجد کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو چې یو سړی په اوښ سپور راغی، اوښه یې په مسجد کې چو کړه او بیا یې پښې ته ولکه ورواچوله، بیا یې هغوی ته وویل: په تاسو کې محمد څوک دی؟ پداسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوی په منځ کې ډډه وهلې وه، نو مونږ وویل: دا سپین سړی دی چې ډډه یې وهلې ده، نو سړي ورته وویل: اې د عبدالمطلب زویه! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمایل: ما ځواب درکړ (یعني خبره دې اورم) نو هغه سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وویل: زه له تا څخه سختې پوښتنې کوم، نو - زما په پوښتنو - مه غصه کیږه او زړه ته یې مه نیسه (یعني خوا دې پرې مه بدوه) نو ویې فرمایل: هر څه دې چې زړه کې وي په اړه یې پوښتنه وکړه، نو ویې ویل: زه له تا څخه ستا د رب او له تا څخه د مخکنیو خلکو د رب په نوم پوښتنه کوم چې آیا ته الله تعالی ټولو انسانانو ته لیږلې یې؟ هغه وفرمایل: هو - الله پوهیږي چې زه ریښتنی یم - ویې ویل: زه د الله تعالی په نوم له تا څخه پوښتنه کوم چې آیا الله تعالی تاته امر کړی دی چې مونږ په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه وکړو؟ هغه وفرمایل: هو ، الله پوهیږي چې زه ریښتنی یم، هغه وویل : زه د الله تعالی په نوم له تا څخه پوښتنه کوم چې آیا الله تعالی تاته امر کړی دی چې د کال دا میاشت - رمضان - روژه ونیسو؟ هغه وفرمایل: هو - الله پوهیږي چې زه ریښتینی یم - ویې وییل: زه د الله تعالی په نوم له تا څخه پوښتنه کوم چې آیا الله تعالی درته امر کړی دی چې زمونږ له مالدارو څخه دا زکات واخلې او زمونږ په غریبانو یې وویشې؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: هو، الله پوهیږي چې زه ریښتینی یم، نو سړي وویل: هغه څه دې چې راوړي ما پرې ایمان راوړی دی او زه؛ زما تر شا د خپل قوم د خلکو استازی یم، او زه ضمام بن ثعلبه د بنو سعد بن بکر له قبیلې څخه یم.

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

انس بن مالک رضي الله عنه خبر ورکوي چې: صحابه کرام له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په جومات کې ناست وو چې یو سړی جومات ته په اوښ سپور ننوت، نو اوښه یې چو کړله بیا یې وتړله، بیا یې ترې پوښتنه وکړه: په تاسو کې محمد څوک دی؟ پداسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خلکو تر منځه ډډه وهلې وه، نو مونږ وویل: دا سپین سړی دی چې ډډه یې وهلې ده، نو سړي ورته وویل: اې د عبد المطلب زویه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وویل: درخخه اورم، پوښتنه وکړه چې ځواب درکړم. نو سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وویل: زه له تا څخه پوښتنې کوم او په پوښتنو کې درباندې سختي کوم، نو زړه ته یې مه نیسه. یعنې: پر ما مه غصه کیږه او - راسره - مه تنګیږه، نو هغه وفرمایل: څه چې غواړې ویوښته، نو هغه وویل: زه له تا څخه ستا او ستا څخه د مخکنیو د رب په نوم پوښتنه کوم چې آیا ته الله تعالی ټولو خلکو ته لیږلی یې؟ هغه وویل: هو - یعنې الله

پوهيږي چې زه رېښتنی يم - د خپلې رېښتينولی د ثبوت په خاطر - يې دا تاکيد وکړ . سړي وويل: زه د الله په نوم درڅخه پوښتنه کوم چې آيا الله تعالی درته امر کړی دی چې مونږ په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه وکړو؟ او هغه فرض لمونځونه دي، هغه وفرمايل: هو، الله پوهېږي چې زه رېښتينی يم، هغه وويل: زه د الله تعالی په نوم ستا څخه پوښتنه کوم چې آيا الله تعالی درته امر کړی دی چې د کال دا مياشت روژه ونيسو؟ يعنې د رمضان مياشت، هغه وفرمايل: هو، الله پوهيږي چې زه رېښتينی يم، هغه وويل: زه د الله تعالی په نوم له تا څخه پوښتنه کوم چې آيا الله تعالی درته امر کړی دی چې زمونږ له مالدارانو څخه دا صدقه واخلې او زمونږ په غريبانو يې وويشې؟ يعنې زکات، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هو، الله پوهيږي چې زه رېښتنی يم، نو ضمام اسلام راوړ، او رسول الله صلی الله عليه وسلم - خپلو ملګرو ته - خبر ورکړ چې هغه به خپل قوم اسلام ته رابلي، بيا يې خپل ځان معرفي کړ چې هغه ضمام بن ثعلبه د بنی بکر له قبيلې څخه دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65044